مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۱۰/۰۳

# پر ورکو لارو سریوو

خواره واره خیالونه مو د شپې راټولوو
د شنه اسمان په ستورو کې دانې راټولوو

میینې ښکلا ایزې شیبې یې له مونږ یوړې
پر ورکو لارو سر یوو اصلي موخې ورکوو

حسیني خوږې سترګې خدازده چرته پټې شوې
نړدې د زړه مراندې هسې خوشې لټوو

نړۍ مو د ځان نه کړه، د خپلو غیږ شوه تنګه
کوم چا چې یوو سیځلې د هغوي در کې غورځو

د ژوند پر بسایني او پښو خپل دریدنې
تر اوسه مو زده نه کړ، ځکه هر لور ته پرځو

فرهاد او د شیریني مینتوب باندې باور وو
چې ومو بایلود اوس د ذلیلتوب خواته ورځو

ملاله هیره شوې حماسه ژوندۍ کوې
ناهید ته یې اواز کړ، چې خپل ولس نور پاڅوو

دا وایې، لوي الله انسان ازاد دی پیدا کړی
چې فکر مو تړي مونږ د هغوي لاس ماتوو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ